## له يو آلماني خبرپال سره د غازي امان الله خان د خبرو يوه برخه:



"خيالي او بې پروا نه يم. غوښتل مې له ملايانو سره خبرې او روغه جوړه وکړم .هغوی نه غوښتل نوښتونه قبول کړي.
حتی د ټکنالوژی لومړني تغيرات او نوښتونه ورته د منلو نه وو ..
د بېلګې په ډول :ټليفون يې د شيطاني کشفونو په نامه ردولو .د دوی له خوا له مکي او مديني منورې سره د ټليفوني لينونو او اړيکو په اړه زما دلايل ردېدل.
ويل به يې، هلته اسلام تحريف شوی دی .روغتون مې نه شو جوړولی، ځکه چې تعويذ يې د ناروغيو څخه د ژغورني يواځينی وسيله ګڼله .نه يې غوښتل، چې منظم ماليات په رسميت وپېژني، ځکه چې الله ج په داسې شيانو حکم نه دی کړی.
د پېژنديانو په مقابل کې يې سخت دريځ کوله، ځکه اړ وو، چې د پېژنديانو لپاره عکسونه واخلي .
ملايانو به ويل، که څوک غواړي عکس واخلي؛ په يو کال، يوه مياشت يا يوه ورځ کې به مړ شي .
خلک به د پوليسو ماموريتونو ته راتلل او ويل به يې، د دې پر ځای چې عکس يې واخيستل شي او مړ شي؛ ښه ده، چې ۵۰ دورې ووهل شي."
له دری ژباړه: بختيار تلاش